### الدرس الخامس — پنځم درس

### قيام الساعة — د قيامت ورځ راتلل

قيامت به په بدترینو خلقو باندی قائمیږی ، د قیامت نه مخکښې به هواء راشی چی د ایمان والو روحونه به قبض کړی،کله چی الله تعالی د دنیا د ختمولو او د ټولو انسانانو د مړکولو فیصله وکړی ، نو الله تعالی به اسرافیل علیه السلام ته حکم وکړی چی په شپیلۍ کښې پوکی وکړه ، کله چی خلق دا آواز واوری نو بے هوشه به شی ، الله تعالی فرمائی : [وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ] {الزُّمر:٦٨} ترجمه : او په کومه ورځ چی شپیلۍ ووهلی شی ، څوک چی په زمکه او آسمانونو کښې دی مړه به شی مګر هغه څوک چی الله ئے وغواړی ، دا حادثه به د جُمعی په ورځ وی، ددی نه پس به ټول ملائک مړه شی ، او صرف د الله تعالی ذات به پاتے شی .٣= زمکی به د انسانانو جسمونه ټول ختم کړی وی مګر صرف د ملا یو هډوکی به باقی وی ، البته د انبیاءکرامو علیهم السلام او شهداو جسمونه زمکه نه خوری ، الله تعالی به د آسمان نه باران نازل کړی چی هغی سره به الله تعالی جسمونه راوټوکوی ، الله تعالی چی کله د خلقو د دوباره ژوندی کولو اراده وکړی نو اسرافیل علیه السلام ته به حکم وکړی چی شپیلۍ وکړي ، دی سره به الله تعالی ټول مخلوق پیداء کړی ، لکه څنګه چی اول ئے پیداء کړی وو دغه رنګه به ئے د قبرونو نه راپورته کړی ، خپیبله خپے، سرتور سر، بربنډ او نا سونته، الله تعالی فرمائی:[وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الأَجْدَاثِ إِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ] {یس:٥١} ترجمه : او پوکے به ووهلۍ شي په شپیلۍ کي او یو یو به د خپل رب پیشۍ ته د قبرونو نه پاسی.  الله تعالی فرمائی:[يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ ، خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَلِكَ اليَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ] {المعارج:٤٤} ترجمه : په هغه ورځ چی دوی به راوځی دقبرونو نه په تادئی سره ګویا که دوی خپلو معبودانو ته ورزغلی سر کوزی به وی سترګے د دوی ، پټوی به دوی لره ذلت ، دا ورځ ده هغه چی دوی سره ئے وعده کیدی شوه ، د ټولو نه اول به زمکه هغه ځائی کولاوه شی چی کوم ځائی د نبی کریم ﷺ قبر مبارک دی ، او بیا به نور خلق د محشر میدان ته روان کړی شی ، چی ډیر لوئی میدان دی ، کافران به نسکور روان وی په سرونو باندی ، د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړی شو چی په سرونو به څنګه روان وی ؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړو چی هغه ذات چی په دنیا کښې ئے په دوه خپو روان کړی وو ، هغه ذات قادره دی چی قیامت کښې ئے په مخ باندی نسکور روان کړی. (مسلم :٢٨٠٦) د الله تعالی ذکر نه مخ اړونکے به ړوند راپاڅوی ، نمر به خلقو ته ډیر نزدی وی او هر سړی به د خپل عمل مطابق په خولو کښې ډوب وی ، د چا خوله به تر پړکو پوری وی، او د چا خوله به تر ملا پوری وی ، او د چا خوله به تر خولے پوری ، بس د هر چا د عمل مطابق به وی ، پداسے خطرناک حالت کښې به څه خلق خوش قسمته وی چی د الله تعالی د عرش د سوری د لاندی به ولاړ وی ، رسول الله فرمائیلی دی: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلاَنِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاه" (بخاري)ترجمه : اُووه قسمه خلق به وي چی الله تعالی به ورله سوری ورکړی په هغه ورځ چی بل سوری نشته دی ، انصاف کونکے بادشاه، او هغه ځوان چی د الله په عبادت کښې رالوئي شی ، هغه کس چی مساجدو سره ئے زړه لګیدلے وی ، او هغه دوه کسان چه د الله د رضا دپاره ئے د یو بل سره محبت وی، او پدی باندی یو ځائی کیږی ، او پدی جداء کیږی ، او هغه کس چی یو اُوچت خاندان او حسن والا تری مطالبه د زنا وکړی او دی ورته ووائي چی زه د الله نه یریږم ، او هغه کس چی صدقه وکړی او دومره پټه چی چپ لاس تری هم خبر نه شی چی ښی لاس څه څیز د الله دپاره خرچ کړل ، او هغه کس چی یواځی الله تعالی رایاد کړی او د سترګونه ئے اُوښکی روانے شی او دا حدیث صرف د سړو دپاره نه بلکه زنانه دپاره هم دی